# دیني ضوابطو او د ټولنې اړتیا و ته په پام تحصیلي نصاب

**پوهندوی خان محمد خدرخېل**

اسلامي تعلیماتو څانګه، شرعیاتو پوهنځی، سید جمال الدین افغان پوهنتون، کنړ، افغانستان
ایمیل: khanmohammad269@ymail.com

**لنډیز**
په دې مقاله کې په تحصیلي نصاب کې دیني اصولو او ټولنیزو اړتیاو ته د پاملرنې ګټې او ارزښت په تحلیلي بڼه تر څېړنې لاندې نیول شوې چې په تحصیلي نظام کې یې شتون ګټور او اړین دی، د څېړنې پایلې ښیي چې د ټولنیزو اړتیاوو ترلاسه کولو کې دیني ضوابطو ته پاملرنه د ارزښتناکې موخې په توګه خورا ګټور، اړین او په موخه او وسیله کې ګڼې مثبتې اغېزې له ځانه سره لري، نصاب به مو د دیني ارزښتونو په ګاڼه سمبال، لاسته راوړنې به مو بشري ژوند ته واقعي سوکالي بخښي، اړتیاوې به مو پوره او د پرمختګ په کاروان کې به له نورو سره سیالان یو، او له پامه غورځول یې نا څرګندې موخې پسې بې ګټې هڅه او د نورو په څېر د خیالي هوساینې لټون دی، نه به مو اړتیاوې پوره وي او لا به د ټولنې د غاړې بوج هم یو.

**کلیدي اصطلاحات**: ارزښتونه؛ اړتیا؛ اصول؛ تحصیلي نصاب؛ ټولنه؛ دین؛ ضوابط؛ قواعد

# Development of a Curriculum Based On Religious Regulations and the Needs of Society

**Assistant Prof. Khan Mohammad Khadarkhil**

Department of Islamic studies, Faculty of Sharia, Sayed Jamaluddin Afghani University, Kunar, Afghanistan
Email: khanmohammad269@ymail.com

**Abstract**
This article employs an analytical approach to assess the advantages and intrinsic worth of integrating religious principles and societal requirements into educational curricula, a practice deemed indispensable and pertinent in any educational system. The research findings underscore the profound significance of heeding religious regulations to fulfill societal needs, with far-reaching benefits in intent and implementation. This approach enriches our educational curricula with moral and religious values and substantially enhances human life. Furthermore, it equips us to effectively address our needs and compete effectively within the ever-evolving development landscape. Conversely, disregarding this pivotal aspect amounts to a futile pursuit of ill-defined objectives and the quest for temporary comforts, mirroring the actions of others. Such negligence results in unfulfilled needs and perpetuates the burden borne by society.

**Keywords:** Values; Need; Norms; Educational Curriculum; Society; Religion; Regulation; Rules

**سریزه**

الحمد لله رب العالمين، و الصلاة و السلام على رحمة للعالمين، و بعد:

تحصیلي نصاب د هر ولس د دیني، اخلاقي، اجتماعي او وجداني جوړښت لپاره قالب وي، قالب چې څنګه جوړ شوی وي او څه ډول نقش او نګار پکې کښل شوی وي هماغه به د هغه ولس په دیني، اخلاقي اجتماعي، ادبي او وجداني جوړښت کې څرګندېږي، که د تحصیلي نصاب مفاهیم او ارزښتونه خپل وي؛ نو پر بنسټ یې روزل شوی نسل به هم د خپل ولس ارزښتونو او د هغه ټولنیز جوړښت ته ژمن وي او که د تحصیلي نصاب مفاهم او ارزښتونه پردي وي؛ نو په رڼا کې روزل شوی نسل به هم نورو ته وفادار او د هغوی پر لاره روان وي، د هر ملت د پایښت او سرلوړۍ د خوندیتوب لاملونه د هغه ملت په دیني او کلتوري ارزښتونو کې نغښتي وي او چې کله هم دغه ډول ارزښتونه له لاسه ورکړي، خپل هویت هم له لاسه ورکوي، بیا نه له نورو ملتونو سره سیالي کولای شي او نه هم په نورو کې له منحل کېدلو څخه ځان ژغورلای شي.

**د ستونزې بیان**

د دې څېړنې ټولنیزه ستونزه په تحصیلي نصاب کې د اړتیاو او دیني ارزښتونو ترمنځ د توازن نه پامنیوی، چې له امله یې د دیني او عصري علومو د زده کړیالانو ترمنځ واټن را مینځته شوی، حال دا چې دواړه یو له بل سره تړلي او نه بېلېدونکي عناصر دي، دیني ارزښتونو کې د اسلامپالنې د فکر محدود ساتل، د دین پوهنې برخې ته لازمه پاملرنه نه کول، د ماده پرستۍ د فکر وده، ځوان نسل د نورو د ژوند او نظریاتو څخه اغېزمنېدل، او بېرته د همدې ټولنې، دیني او کلتوري ارزښتونو ته د خدمت او پیاوړتیا پر ځای یې پر وړاندې مبارزه کول، د فکري ښکېلاک په لومو کې د ځوان نسل ښکېلېدل، له دین پالنې څخه لېرې ساتل، له اصلي موخو او بوختیاو څخه ناخبري، د دې ټولو ستونزو اساسي سرچینه د پردیو په خوښه جوړ شوی نصاب دی چې په پایله کې یې ځوانان له واقعي پوهنیزو او څېړنیزو بوختیاو څخه لېرې وساتل شي، چې نه یې دیني ارزښتونو ته ژمن و، او نه یې ټولنیزې اړتیاوې پوره کړای شوې.

**د څېړنې ارزښت**

د دې څېړنې ارزښت د دیني ارزښتونو، ټولنیزو اړتیاو او تحصیلی نصاب له ارزښت څخه سرچینه اخلي، چې د دې ټولو شتون یوه دیني، او دنیوي اړینه اړتیا ده، د همدې اړتیا څخه څرګندېږي چې شتون او ترمنځ یې اړیکه او توازن ساتل له ارزښت څخه ډکه موضوع ده.

**څېړنې موخې**

په دې څېړنې کې لاندې موخو ته د رسېدلو هڅه شوې ده؛

اصلي موخه: دیني ضوابطو او ټولنیزو اړتیاو ته په پام د تحصیلي نصاب ارزښت او اغېزې روښانه کول.

فرعي موخې

۱- د ديني ضوابطو، ټولنيزو اړتياو او تحصيلي نصاب معنا او مفهوم پېژندل.

۲- په تحصيلي نصاب کې ديني ارزښتونه او ټولنيزې اړتياوې په پام کې نيولو ارزښت په ګوته کول.

۳- تحصيلي نصاب کې ديني ارزښتونو او ټولنيزو اړتياو ته د پاملرنې مثبتې اغېزو باندې پوهېدل.

۴- او په تحصيلي نصاب کې د ديني ارزښتونو او ټولنيزو اړتياو له پامه غورځولو ناوړې پايلو باندې رڼا اچول.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنې کې لاندې پوښتنو ته د ځواب ميندلو هڅه شوې ده:

اصلي پوښتنه: په تحصيلي نصاب کې د ديني ارزښتونو او ټولنيزو اړتياو ته پاملرنې ارزښت او پر ټولنې يې اغېزې څه دی.؟

فرعي پوښتنې

۱. د ديني ضوابطو، ټولنيزو اړتياو او تحصيلي نصاب معنا او مفهوم څه دی؟

۲. په تحصيلي نصاب کې ديني ارزښتونه او ټولنيزې اړتياوې په پام کې نيولو څه ارزښت لري؟

۳. تحصيلي نصاب کې ديني ارزښتونو او ټولنيزو اړتياو ته د پاملرنې مثبتې اغېزې څه دي؟

۴. او په تحصيلي نصاب کې د ديني ارزښتونو او ټولنيزو اړتياو له پامه غورځول څه ناوړې پايلې لري؟

## د څېړنې مخينه

د تحصيلي نصاب په تړاو ښايي په نړۍ کې ګڼې ليکنې او څېړنې ترسره شوي وي، ځکه تحصيلي نصاب اوس د پرمختللې نړۍ د زده کړه ايزې پرمختيا يو راز ګڼل کېږي؛ نو ځکه به يې وخت په وخت د نويو تجربو، ارزښتونو، کړنلارو او نورو برخو کې حتما ليکل شوي وي؛ خو د افغاني ټولنې د تحصيلي نصاب په تړاو داسې ليکنې چې ديني ضوابطو او ټولنيزو اړتياو ته په پام په پرتليزه توګه ترسره شوي وي، زما تر سترګو نه شوه، البته په انټرنيت کې مې ځينې مقالې وليدلې چې په تحصيلي بنسټونو کې د ديني او ملي فکر پر وړاندې ننګونې، ستونزې او بېلابېلې خبرې پکې وې، لکه:د مولوي عبدالهادي مجاهد ليکنه(د ولسونو او نظامونو په جوړولو او ورانولو کې د تعليم، فکر او فرهنګ نقش)يا په عربي ژبه د استاذ فتيحة صنور ترسره کړې څېړنه(أثر الضوابط الدينية على تمثلاث الطالبة الجامعية)، خود يوې اکاډميکې څېړنې په بڼه داسې کومه مقاله ما ونه ليده.

## څېړندود

دا څېړنه په تحليلي بڼه ترسره شوې ده؛ چې مواد يې په ټوله کې له انټرنټ څخه را اخيستل شوي دي.

۱. د ځينو معنوي اقتباسونو په برخه کې له کتابتوني مېتود(ليکل شويو اثارو) څخه هم کار اخيستل شوی دی.

۲. د څېړنې اړوند مواد زياتره له معاصرو تکنالوجيکي وسيلو څخه په ګټنه را ټول او څېړل شوي دي.
۳. زياتره مواد يې د بېلابېلو څېړونکو د نظرياتو پر اساس د ذهن، نظر او د تحليلي تبصرې حيثيت لري.
۴. مواد په علمي او موضوعي توګه په بېلابېلو عنوانونو کې ترتيب شوي، چې د شخصي نظر، تحليل او تبصرې رنګ پکې غالب دی.

**د ديني ضوابطو، ټولنيزو اړتياو او تحصيلي نصاب پېژندنه**

ديني ضوابط د عربي ژبې د لغت او اسلامي فقهې په قاموسونو کې په ګڼو لغوي معناو سره کارول شوی دی، لکه: ثبت، ساتنه، نيول، کلکول، لزوم، حزم، ټينګول، جديت، شدت او داسې نور (مختار، 2008 م، ج 2 ص 1345- ۱۳۴۶).

همدغو لغوي معنا ګانو ته په پام او د خپلو مترادفو اصطلاحاتو سره په لږ توپير د اسلام په قاموس کې د اصولو، قواعدو، عمده کلياتو، معيارونو، شرطونو، اجراءاتو، بنسټونو، حدودو او نورو ګڼو مفاهيمو باندې کارېدلی دي، چې په عامه توګه يې تعريف داسې شوی دی: ضوابط هغه ټولېز او هر اړخيز اصولو چې پر خپلو ټولو جزئياتو او افرادو باندې تطبقيږي.(فيومي، ۱۴۱۵هـ، ج ۲ ص ۵۲۰).

په دې توګه له ديني ضوابطو څخه زموږ موخه د اسلام د مبارک دين هغه روح او هر اړخيز معيارونه او اصول دي چې د يوې ارزښتناکې موخې په ډول يې په عمومي بڼه په ټولو ديني حکمونو کې رعايت شوی دی (صنور، ۲۰۱۷م، ص ۸۱- ۹۸)

دغه ارزښتونه د بېلابېلو معيارونو له مخې ګڼ شمېر دي؛ لکه د دين، نفس، عقل، مال او ناموس د خونديتوب پورې اړوند د اسلامي شريعت موخې، دا راز په ديني زده کړو سره داخرت او په عصري زده کړو سره د دنيا د چارو سمبالښت، اسلامي شعائر او هغه وسيلې چې دې شعائرو پورې اړوند د وسيلو يا غايو په درجه کې وي، ټول په ديني ارزښتونو کې راځي.

په تحصيلي نصاب کې د ديني ارزښتونو څخه موخه د اسلامي عقيدې، اسلامي عباداتو، اسلامي کورني او ټولنيز نظام پالنه، د نبوي سيرت، اسلامي تاريخ او اسلامي تمدن په رڼا کې خپل هويت پېژندل، د اسلامي سياست او اقتصادي فکر درلودل، د قرآني علومو سره د مينې تړاو، او په نړيوالو اړيکو د مسلمان پالنې او کفر څخه د نفرت احساس درلودل دي.

او له ټولنيزو اړتياو څخه هم موخه هغه غوښتني دي چې د بشري ټولنې ټول وګړي ورته په عامه يا ځانګړي ډول اړتيا ولري، د بشري ژوندانه لپاره حتمي غوښتنې وي، که د ستونزې د مخنيوي په پار وي، او که د بشپړاوي او سوکالۍ په کچه وي، اړتياوې مادي وي که معنوي، د وسيلې په توګه وي او که هدف وي..(مدحت، ۲۰۰۹م، ص.177)

او تحصیلي نصاب یا (curriculum)څخه موخه تدریسي او څېړنیزو ډګرونو کې د بدلونونو د ایجاد او ټاکلیو موخو ته د رسېدلو په لړ کې د هغو فعالیتونو نوم دی چې په پام کې نیولو سره یې پوهنیز او څېړنیز یون په منظمه توګه پر مخ وړل کیږي (یعقوبی، 1390 هـ)
یا په بل عبارت له تحصیلي نصاب څخه موخه د پوهنتونونو هغه ټاکلي روزنیز او تدریسي مهم مواد وي، له کومو څخه چې زده کړیالان په خپله تحصلي دوره کې استفاده کوي.معمولاً نصاب هغه ته ویل کیږي، چې د یو ټاکلي او معین هدف لپاره ترتیب کړل شوی وي او په هېواد کې په ټولیزه معنا سره د پلي کولو وړ هم وي (سایل، ۲۰۱۷م).
یعنې څېړنیزو موخو ته د رسېدلو له پاره په منظمه توګه د زده کړو د پیل کولو او پای ته رسولو نقشې ته تحصیلي نصاب ویلی شو؛ څکه په هر ځای کې نصاب وخت ته په کتو او د اړتیاو پر بنسټ ترتیب کیږي، په نورو هېوادونو کې هم د وخت مطابق نصاب بدلیږي را بدلیږي؛ نصاب هېڅ ثابته تحصیلي بڼه نه لري.

**په تحصیلي نصاب کې دیني ضوابطو او ټولنیزو اړتیاو ته د پاملرنې ارزښت**

تحصیلي نصاب د زده کړه ایز او روزنیز بهیر لپاره ارزښتمن او اړین دی؛ څکه چې له مخې یې موږ کولی شو، خپله تحصیلي دوره په ښه ډول سره پای ته ورسوو، او په دغه دوره کې د مسلک او علم له مهمو مسایلو او کړنو په ښه توګه خبر و اوسو، ښایي له ټاکلي نصاب پرته به موږ په لومړیو کې موخه یوه ټاکلې وي او په وروستیو کې به بیا بل څه ته رسیدلي و.
د نصاب د ترتیبولو لپاره اړتیا حتمي طرحه ده څکه چې څوک د څه لپاره نصاب غواړي نو باید د هماغې پوښتنې په ځواب نصاب هم ور برابر کړل شي.
تحصیلي نصاب په حقیقت کې د الله تعالی له خوا د پیغمبرانو او هغوی سره د کتابونو د نازولو د لړۍ سره ورته چاره ده، الله تعالی فرمایي: ﴿فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ﴾ (سورة البقرة: 213 آیت)
ژباړه: الله تعالی انبیاء د زېري ورکوونکو او وېروونکو په توګه را ولېږل او هغوی سره یې په حقه کتاب هم را لېږلو.
له دې نه په ډاګه څرګندیږي چې الله تعالی د هرې زمانې پیغمبر ته بېل بېل کتابونه را لېږل، چې دا له نورو ډېرو حکمتونو سره سره د هرې زمانې او هر ډول حالاتو او خلکو حالت ته په پام سره را لېږل کېدل.
او رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه اوږد حدیث کې چې ابي هریره رضي الله عنه روایت کړی دي فرمایلي دی: ﴿الإِيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ، وكُتُبِهِ﴾ (بخاري، 1422هـ، ج ۱ ص ۱۹).

یعنې ایمان دا دی چې پر الله تعالی، پر ملائکو یې او پر کتابونو یې باور ولري.
چې دا په اسلام کې د ټولنیزو اړتیاو او دیني ارزښتونو ته په پام د تحصیلي نصاب درلودلو له پاره ښکاره او څرګند دلیل کېدای شي.
چې له نېکه مرغه افغاني ټولنه هم خپلې بشری اړتیاوې د خپلو لوړو ارزښتونو چې دیني ضوابط او اسلامي فکر دی، پر اساس تنظیموي.
یا په نورو ټکو د بشریت د هر اړخیزې پرمختیا او هوساینې په موخه د مادي وسائلو د کارونې په ترڅ کې د فکري او روحي غوښتنو رعایت هم کوي.
لنډه دا چې په ټوله کې د اسلامي ټولنې او په ځانګړې توګه د افغاني ټولنې د پرمختګ له پاره داسې تحصیلي نصاب اړین او له ارزښت څخه ډک دی، چې د دیني ضوابطو په پام کې نیولو سره یې ټولنیزې اړتیاوې پوره کاندي.

**په تحصیلي نصاب کې د دیني فکر او ضوابطو د پالنې موخې**

په تحصیلي نصاب کې د دیني ضوابطو د پالنې ځای پر ځای کول ګڼې موخې لري چې ځینې یې په لاندې توګه یادېږي:

۱. په مسلمانانو کې دیني لارښوونې عامول.
۲. مسلمانان او په ځانګړې توګه ځوانان د اسلام په ځانګړنو پوهول.
۳. د مسلمانانو په زړونو کې دیني رغبت او محبت پیاوړی کول، څو د هغه چا مخه ونیسي، چې د اسلام څېره د انسانانو پر وړاندې بده معرفي کوي او افراط په کې کوي.
۴. د اسلام د ژوند یو بشپړ نظام په توګه معرفي کول، چې د هر زما ن او مکان سره د تطبیق وړ دی.
۵. اسلام په داسې ډول معرفي کول چې په علمي او عملي ډګرونو کې څرګنده ونډه لري او د انسانانو بشپړه رهنمایي کوي (عزیزي، ۱۳۹۸هـ، ص ۳۰)
٦. بشریت ته د دین بشپړ انځور وړاندې کول، هغه چې د بنده او رب ترمنځ یې اړیکې پیاوړې کوي.
۷. مسلمانان له قومي، ژبني، توکمیز تعصباتو څخه را ویستل او په اسلامي ورورګلوۍ را ټولول.
۸. د مسلمان زړه ته د اسلام د هر اړخیز فکر نظریه په داسې توګه رسول، چې په دې وپوهېږي چې اسلام د ژوندانه بشپړ او کامل نظام دی چې له عقیدې را نیولې تر عباداتو، ټولنیزو اړیکو، اقتصاد او سیاست پکې شامل دی، چې د انسان له پاره دژوند په هر ډګر کې د بل هیڅ مذهب، دود، کلچر او قانون ته اړتیا نه پېښېږي.
۹. مسلمان ځوانان له هر فکري یرغل څخه ژغوري، هغه چې غواړي د اسلام څېره ورته بده معرفي او په زړونو کې یې شکونه او اندېښنې پیدا کړي دي.

۱۰. د اسلامي لارښوونو داسې ور پېژندل چې د انسان د اخلاقو، چلندونو، کړنو، او د نورو انسانانو سره د تعامل بهترینې وسیلې او بېلګې وي.

۱۱. اسلام د وسطیت او د یو داسې دین په توګه ور پېژندل، چې د انسان د دنیا او اخرت د بریا او هوساینې راز پکې نغښتی دی (فیضي، ۲۰۲۰م).

**په تحصیلي نصاب کې د دیني ارزښتونو د پیاوړتیا چارې**

څېړنو ثابته کړې ده چې دیني او ساینسي علوم، یو د بل سره څنګ په څنګ داسې اړین دي، لکه د یو بدن غړي چې یو وبل سره تړلي دي؛ ځکه چې اسلام د طبیعت او فطرت دین دی، د کلیسا خرافات او افواهات نه دي، چې خلک له عصري علومو څخه منع کوي او د علمي پرمختګ مخه یې نیسي.

پر اسلامي ارزښتونو پوهېدنه ډېرو هغو ستونزو ته د حل لاره ده چې عصري علومو او نظریاتو په مخ کې ایجاد شوي دي، مسلمانو پوهانو د اسلام د اصلي سرچینو په رڼا کې د اوسني عصر د غوښتنو سره سم اقتصادي، کورنی، اخلاقي، سیاسي نظامونه او ګڼ نور هغه علوم چې په اوسني وخت کې ورته اړتیا لیدل کېږي په داسې بڼه وړاندې کړي، چې په اوسني عصر کې د ژوند په هره برخه کې استفاده کېږي.

له همدې امله لازمه ده چې د مسلمان ځوان د دیني تندې د خړوب په خاطر په ټولو تحصیلي بنسټونو کې د مسلکي زده کړو تر څنګ دیني پوهه ترلاسه کړي، څو په دیني بڼه روزل شوي ځوان د اسلامي امت په بیا جوړونه کې رغنده رول ولوبوي او که له دیني روزنې پرته ټولنې ته وړاندې شي، او زړه یې له دیني عقیدې او الهي خوف څخه خالي وي، بیا به نو هیڅکله د ټولنې د دردونو دوا نه شي او تل به د نورو نوکر او بې مسؤلیته ژوند ترسره کوي.

د ټولنیزو اړتیاو یا عصري علومو ترڅنګ د دیني ضوابطو او ارزښتونو په ګاڼه سمبال نصاب کې باید لاندې موارد په پام کې ونیول شي:

دیني زده کړو ته کافي وخت ورکول: د اسلامي ضوابطو پالنه هغه وخت سمه نتیجه ورکولای شي چې کافي او مهم وخت د تدریس له پاره ورته ورکړل شي.

اسلامي عقیده زده کول: په دې سره به یو ځوان د عقیدوي اړخ د پیاوړي کولو او د عقیدې په اړه د اساسي موضوعاتو د پوهاوي په خاطر ځای پر ځای شي، چې په عام ډول د عقیدې له اساساتو، د ایمان له ارکانو او نورو اړوند موضوعاتو څخه بحث وشي، څو یو ځوان په دې پوه شي چې په کومو شیانو ایمان راوړل لازمي دي، او پر دغو شیانو ایمان راوړل ولې ضروري دي؟ کومې اغېزې او ګټې لري؟

حفظ او تجویدزده کول: په دې سره محصلان د قران کریم په صحیح توګه لفظي زده کړه ترسره او خپل ژوند ته د هغې په تلاوت سره روحي سکون ترلاسه کړي.

عبادت او حکمتونه يې پېژندل: په دې سره به د عباداتو له احکامو څخه خبر شي، څو يو مسلمان په دې پوه شي چې ولې د الله تعالی عبادت کوي؟ په دې عبادت سره الله تعالی له مسلمان نه څه هغواړي، د الله تعالی عبادت په څه ډول بايد ترسره شي تر څو د قبوليت وړ وګرځي.
اسلامي اخلاق درلودل: هغه اخلاق چې د يوې انساني ټولنې او شريعت غوښتنه وي په دې سره به د اخلاقو پېژندنه او فلسفې ترڅنګ د ښو اخلاقو د خپلولو له بدو اخلاقو څخه د ځان ژغورنې عوامل او اسباب زده کړي، د ښو اخلاقو او بدو اخلاقو د نمونو څخه په تفصيلي ډول محصلان آګاه کړای شي.
**اسلامي کورنۍ او ټولنه:** محصل ته دا وښودل شي، چې په ټولنه کې د سالم عقل په رڼا کې څه ډول ژوند ترسره کړي د ټولنې ټولنيز اداب کوم دي؟ کوم کارونه دي چې زموږ د ټولنې د بربادۍ لامل ګرځي؟ د يوې مسلمانې ټولنې خصوصيات او ځانګړتياوې کوړمې دی، يوه وړه ټولنه کورنۍ زموږ د اسلامي شريعت د لارښوونو په رڼا کې څه ډول جوړولی شو؟.احکام او مسائل يې ور زړه کړو؟
**قرآن پېژندنه او پوهنه:** محصل ته د قران کريم په هکله بشپړ معلومات ورکړل شي، د قران کريم د نزول د اهدافو څخه نيولې د قران کريم د اعجاز او د عصري علوړمو او سائنسي فکر سره د قران کريم د تړاو موضوعات په پوره تفصيل سره ورته بيان شي.
**اسلامي اقتصاد سره اشنا کېدل:** د اسلام د اقتصادي نظام له اساساتو او ځانګړتياو څخه خبر کړای شي، د نورو اقتصادي نظامونو سره يې پرتله او د سالم عقل په رڼا کې معاملاتو باندې رڼا واچول شي.
اسلامي سياست زده کول: په دې سره مسلمان ته اسلام د ژوندانه د نظام په توګه ور وپېژندل شي، يو محصل ته د ورښودل کېږي چې اسلام د وسطيت او اعتدال دين دی، او په دې پوهول کېږي چې يو نظام د اسلام په رڼا کې څنګه جوړېږي؟ حکومت څه ته ويل کېږي؟ اسلامي دولت کوم خصوصيا ت لري؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم څه ډول او په کومو اصولو اسلامي دولت جوړ کړی و؟
**اسلامي اداره:** د اوسنۍ معاصرې نړۍ د اداري جوړښتونو له پاره د اسلامي تراثو څخه د فکر جوړونې له پاره معلومات وړاندې شي، څو مو اداري په اسلامي فکر او د مسلمان امت د پخوانيو مشرانو پر تګلارو روان شي.
فکري روزنه ترلاسه کول: په دې سره د محصلانو پر وړاندې د فکري استعمار او اوسني تهذيبي ښکيلاک د وسوسو او شبهاتو په ځوابولو سره ځوانانو ته د خپل اصيل سوچه اسلامي فکر او فرهنګ په اړه معلومات ورکړل شي.
**اسلامي تمدن سره اشنا کېدل:** د اسلام د تمدن تاريخ سره يو ځوان اشنا کړای شي، تر څو په دې پوه شي چې د مسلمان تمدن له کومه ځايه پيل کېږي د تمدن اسباب کوم دی، مسلمانان نن ورځ ولې

پرېوتي دي، څو د تېر برم د کیسو په ا ورېدو سره یو ځل بیا په دوی کې د نړۍ د ابادۍ او اسلامي تمدن احساس را ژوندي شي.

له نېکه مرغه د افغانستان د اسلامي امارت تر واک لاندې د افغان ولس د څرګند بري وروسته لوړو زده کړو وزارت سم له لاسه د ګټورو ګامونو په لړ کې چې د خپلو نه ستړي کېدونکو هڅو پایله کې یې د ټولو واجد شرایطو افغانانو لپاره د تحصیل او زده کړې زمینه برابره کړه، د لوړو زده کړو وزارت رهبرۍ د اړینو معیارونو په پام کې نیولو سره د داسي باکیفیته معیاري تحصیلي نصاب چمتو کړي چې له یو لوري نړیوال وضعیت او شرایطو او اوسني حالاتو سره سمون ولري او له بل اړخه د دغه نصاب څخه فارغ کسان خپلو دیني او ملي ارزښتونو ته ژمن وي؛ نو له همدې کبله نوموړی وزارت د داسې تحصیلي نصاب چمتو کول له خپلو لومړیتوبونو، مهمو دندو او مسؤولیتونو څخه ګڼي او د لوړو زده وزارت په ملي ستراتېجیک پلان کې د داسې معیاري تحصیلي نصاب چمتو کول له مهمو موخو څخه دی چې د همدې هدف د ترلاسه کولو په موخه د لوړو زده کړو وزارت په لارښوونه او سرپرستۍ د نصاب ریاست را مینځته کړ چې ستره دنده یې ټولنې اړتیاوو او نړیوالو معیارونو ته په کتو او همدارنګه د اسلامي احکامو په رڼا کې د هېواد د تحصیلي بنسټونو د تحصیلي نصاب بیاکتنه او پراختیا د دغه ریاست اساسي موخې دي، د مسلکي کمېټو، د تحصیلي نصاب ملي کمیسیون او د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د استاذانو په همکارۍ یې د تحصیلي نصاب بیا کتنه او اصلاح پیل کړې ده، چې تر ټولو د مخه یې د اسلامي ثقافت نصاب له بیا کتنې او یو شمېر اصلاحاتو سره چمتو کړ او ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو او مؤسسو ته یې وړاندې کړ، چې په دې سره به د پخواني نصاب څخه د ګڼ شمېر مخکښنیو نیمګړتیاوو لرې کولو او سموونو وروسته د نوي نصاب په پلي کولو سره د ټولنې له غوښتنو سره سم اړتیاوو ته بشپړ ځواب ویل شوی وي.

**په تحصیلي نصاب کې د دیني فکر او ضوابطو د پالنې ګټې**

په تحصیلي نصاب کې د دین پالنې پیاوړتیا او د دیني فکري روزنې مواد ځای پر ځای کول له ارزښته ډکه چاره او ګڼې ګټې لري، چې په لاندې توګه ترې یادونه کوو:

۱. د دین پر اساساتو، د عقیدې پر اصولو، د عبادت په طریقو د پوهېدو له پاره غوره وسیله ده (عزیزي، ۱۳۹۸هـ، ص ۲۸.)

۲. د هغو لارو چارو څخه د خبرداري لاره ده چې په شریعت کې منع ګرځول شوي دی.

۳. د مسلمان له پاره د فکري ژغورنې هغه وسیله ده چې د پردیو فکري یرغلونو څخه یې ساتي.

۴. په مسلمان کې ایجابي لوری پیاوړی کوی تر څو د سترو موخو له پاره د رسېدلو هوډ قوي کړو.

۵. د اسلامي فکر په زده کړې سره مسلمان کولای شي چې په نړیواله کچه د مسلمانانو هغو ستونزو له پاره د حل لارې ومومي چې نن سبا ورسره لاس و ګریوان دي.
٦. اسلامي ارزښتونو ته ژمنتیا مسلمان ته هغه ټکي ور په ګوته کوي، چې د هغه ديني رسالت ګڼل کېږي، په سلوکي او اخلاقي برخه کې يې عملي ډګر ته را وباسي.
۷. مسلمان ته د حقیقت لارې ور په ګوته کوي او د پیغمبرانو او صالحانو پیروي ته يې هڅوی.
۸. د الله تعالی په څمکه د الهي احکامو د پلي کېدلو لارې چارې ور په ګوته کوي، او د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې د بریا زېری ورکوی، تر څو د ټولنې په رغونه او سمون کې رغنده رول ولوبوي.
۹. د اسلامي تمدن له تاریخچې څخه يې خبروي، د پیاوړتیا او کمزورۍ نکتې ور په ګوته کوي، څو د خپل راتلونکي په اړه د پیاوړتیا له نکتو څخه ګټنه او د کمزورۍ له نکتو ځانونه وساتي.
۱۰. د هغو ستونزو د حلولو لارې چارې ورښايي چې مسلمانان ورسره په نړیواله کچه مخامخ کېږي.
۱۱. اسلامي فکر نه يوازې دا چې د مسلمانې ټولنې پر کلتور مثبت اغېز کوي؛ بلکې د نورو ټولنو علمي، ادبي او ديني تېروتنې هم اصلاح کړي دی.
۱۲. د اسلامي ارزښتونو زده کړه د اسلامي امت تېر، اوسنی او راتلونکی برم خوندي ساتي.
۱۳. د اسلامي شریعت د ديني سرچینو څخه د خبریدلو غوره وسیله ده.
۱۴. مسلمان ته د ټولنې د سمون او رغون پر وړاندې مسؤلیت ور په ګوته کوي، څو هغه موخه تر لاسه کړي، د کوم له پاره چې الله تعالی انسان پیدا کړی دی (فیضي، ۲۰۲۰م).

**په تحصیلي نصاب کې د ديني فکر او ضوابطو د پالنې ګټې او مثبتې اغېزې**

که چېرته په تحصیلي نصاب کې ديني ارزښتونه او ټولنیزې اړتیاوې په پام کې ونیول شي، نو ګڼې ښېګڼې او مثبتې اغېزې لري، چې زه يې ځینې په لاندې کرښو کې وړاندې کوم:
۱. راتلونکي نسلونو کې د ژوند په هر ډګر کې ديني فکر غالب وي، د ټولنیزو اړتیاو پوره کولو تر څنګ به د عصري علومو د زده کړې څخه د هغوی موخه د الله تعالی رضاء حاصلول وي، د خپل ځان، کورنۍ او د ټولنې د نورو وګړو خدمت او اړتیاوې پوره کول به يې يوازې د الله پالنې پر فکر ولاړ وي، یا په بله اصطلاح موږ به مسلمان ډاکتران، د اسلامي فکر لرونکي انجینران او پر اسلامي ګاڼه سمبال علمي کادرونه ټولنې ته وړاندې کوو.
۲. په عصري علومو سمبال راتلونکې نسلونه به د ديني زده کړو پر مټ له انحراف وژغورل شي، او ښه راتلونکې به ولري.
۳. ديني او دنيوي علومو ته متوازن رشد ورکول، د دنیا دابادۍ او آخرت فکر رامنځ ته کول، او دعلومو ترمنځ دتعصب روحیه له منځه وړل.

۴. پر دیني فکر داسې ځوان نسل روزل چې له الله تعالی، رسول الله صلی الله علیه وسلم، قرآن کریم او هیواد سره یې بې کچه مینه وي د جماعت پابند، په خپل وخت حریص، په خپلو چارو کې منظم، د سالم بدن او رغنده فکر څښتن، اخلاقي، ځیرکه مسلمان، د حساس ضمیر څښتن، ایمان یې پولیس او څارندوی او همدارنګه د جنت او د الهي دیدار او ملاقات شوقمن وي.

۵. دتوحید په عقیده دځوان نسل روزل، او درسول الله صلی الله علیه وسلم له سیرت سره یې اشنا کول.

٦. پر عباداتو التزام، او له حقیقي روح اوګټوسره یې بلدتیا.

۷. په انفرادي او ټولنیزو اخلاقو پوهاوې، او داسلامي تمدن په رڼا کې دغوره اسلامي سیاستونو درامنځ ته کولولپاره هڅې کول.

۸. د دیني ارزښتونو او هیوادنۍ مینې پر ګاڼه سمبال ځوان نسل به ولرو.

۹. د هغو اشخاصو نیوکې او اعتراضونه چې د اسلامي ضوابطو پر زده کړو یې لري او وایي چې اسلامي فکر افراطیت خپروي، زاړه معلومات دي، په حقیقت کې پر تعصب ولاړ دي، او د یوې پروژې په توګه یې په مقابل کې دنیوي امتیازات اخلي، د یوې څېړنې له مخې چې په ننګرهار پوهنتون کې ترسره شوې ده، داسې ښکاري چې د محصلانو له مینځه د لوړ استعداد لرونکو څخه یې(۱۰۰٪)له دغسې زده کړو څخه رضایت څرګند کړی دی، او هغوی چې استعدادونه یې لږ کمزوري و، یا نورو علومو ته به زیات ارزښت قائل دي، هغوی هم(۹۸٪)فیصده رضایت ښودلی دی، او هغوی چې ببخي کمزوري او یا ببخی د نورو علومو پر اړتیا قائل دي، هغوی هم(۹۵٪)فیصدو پورې راضي ښودل شوي دی.

لنډه دا چې د اسلامي زده کړو اغېز پر ځوانانو کې زیات دی، زیاتره محصلان یې د لا زیاتوالي غوښتنه لري، او دا خبره ببخي غلطه ده، چې ګویا دا مضمون په ځوانانو کې ترهګري زېږوي، او ځوانان یې افراطیت ته هڅولي دی، بلکې ځوان لا د هېوادنۍ مینې او ټولن پالنې په فکر ورسره مینه لري.

**په تحصیلي نصاب کې د دیني ضوابطو او ټولنیزو اړتیاو له پامه غورځولو ناوړې پایلې**

که چېرته په تحصیلي نصاب کې دیني ارزښتونه او ټولنیزې اړتیاوې له پامه وغورځول شي، ګڼې ناوړې پایلې او اغېزې ځانه سره لرلی شي، د بېلګې په توګه:

**پردیو ارزښتونو ته ځای ورکول:** پر تحصیلي بهیر فکري یرغل سره تحصیلي نصاب د پردیو له رنګه اغېزمن کېږي، چې له امله یې د نوی نسل فکري اړیکې د پردیو له خپلو معنوي او اجتماعي ارزښتونو څخه پرې او د نورو په فکر، فرهنګ، سیاسیت او ټولنیز ژوند د پرمختګ او د مثبت بدلون یوازینۍ لاره بولي، حال دا چې حقیقي پرمختګ په علم او صنعت راځي، نه د پردي فکر او ارزښت په خپلولو، په هېواد کې مادي پرمختګ هغه وخت راځي چې د ولس اړیکې له دین او معنوي ارزښتونو سره همغږې وي، که دغه درک او روحیه ونه لري او یا د دیني ارزښتونو په اړه بې تفاوته شي نو په افراطي

کړنو سره د راتلونکي لپاره د اوږدې بې ثباتۍ او د ولس او نظام تر منځ د ټکرونو لپاره لاره هوارېږي او په خوله اصلاحات په عمل کې د فساد په بڼه را څرگندېږي.

**پرديو ته ژمن نسلونه را مينځته کېدل:** د پرديو افکارو پر بنسټ روزل شويو ځوانانو کړنې داسې کېږي چې نږدې د ژوند ټولې چارې ديني لارښوونو پر ځای د نورو پر فکرونو برابروي، دوی د اسلامي امت افراد وي، خو د افکارو او کړنو گټه يې نورو ته رسېږي، هغوی سره وفا کوي او هغوی د ځان وفادار ملگري بولي او په پوره اخلاص د هغوی په خدمت کې وي او د اسلامي نظام د راوستلو لپاره نه احساس ولري او نه توان.

**د تحصيلي ادارو اشغالول:** په تحصيلي نصابونو کې د پرديو ارزښتونو سره روزل شوي نسلونه د چارو واکمنان او د صلاحيتونو څښتنان شي، بيا نو طبعا د پردي کلتور، ارزښتونو او پرديو د گټو له پاره کار کوي او دا د تمدن او پرمختگ لاره بولي.

**د ديني او دنيوي اړتياو ترمنځ توازن له مينځه وړل:** په تحصيلي نصاب کې د اسلامي امت د برم او يووالي او د نورو پر وړاندې د پياوړي دريځ او د ديني لارښوونو او ساينسي اکتشافاتو تر منځ د اړيکو مفاهيم حذف کول، او پر ځای يې د پرديو ارزښتونو را ژوندي کول او ورسره يو ډول سياسي، فرهنگي، اخلاقي او ټولنيزو ارزښتونو د خپلولو مفاهيم په ادبي، ټولنيزو، تاريخي، فرهنگي او د مدني زده کړو په مضامينو کې ځای پرځای کولو سره په پراخه پيمانه د نوي نسل په ذهن کې ځای ونيسي.

**د هر ډول تحصيلي نصابونو ازادي:** د تحصيلي بنسټونو د ايجاد په لړ کې به هر څوک د خپلې خوښې تحصيلي بنسټونو له پاره د نصابونو جوړولو ازادي وي چې ځينې مهال يې تر شا پردي ولاړ وي.

**د محصلانو د سويې څخه لوړ نصاب:** ډېره ځله داسې نصاب جوړ شي چې د اسلوب، تحصيلي مېتود او د معلوماتو او سويې په لحاظ د دې ټولنې د زده کړيالانو له سويې او وضعيت سره سمون نه لري، چې نه يې تدريس او نه يې هم زده کړه په سمه توگه صورت موندلی شي، تحصيلي ډگر د يو ذهني اضطراب سره مخ وي.

### د څېړنې موندنې

د څېړنې موندنې په لاندې توگه دي:

۱. له ديني ضوابطو څخه موخه د اسلام عمده موخې او عمومي روح دی.

۲. له ټولنيزو اړتياو څخه مقصد ټولې هغه معنوي او مادي غوښتنې دي چې بشري ژوند پورې تړلي دي.

۳. له تحصیلي نصاب څخه هدف هغه زده کړه ایز مواد او مفردات دي چې دیوې مشخصې موخې په پار ترتیب کړای شوي وي.

۴. په تحصیلي نصاب کې دیني ضوابطو او ټولنیزو اړتیاوو ته پاملرنه په حقیقت کې په منظم او غوره ډول موخو ته د رسېدلو اغېزمنه لاره په ګوته کول دي، که تحصیلي نصاب نه وي، نو بې له شکه چې بې موخې او بې نظمه پروسه به وي.

۵. په تحصیلي نصاب کې ټولنیزې اړتیاوې په ګوته کول او د دیني ضوابطو په پام کې نیولو سره یې ترتیبول ګڼې ګټې او مثبتې اغېزې لري، تر ټولو مهم یې ټولنیزې اړتیاوې په ارزښتمن ډول ځواب ویل دي.

۶. که په تحصیلي نصاب کې ټولنیزې اړتیاوې د دیني ارزښتونو په رڼا کې تنظیم نه شي، نو یا به اړتیاوې ترلاسه نه شي یا به یې د ترلاسه کولو انګیزه بې ارزښته او بې ګټې وي.

**مناقشه**

که پورتنۍ موندنې د پخوانیو له څېړنو سره پرتله کړای شي، څرګندېږي چې:

په تېر کې د نصاب په جوړولو کې ټولنیزو او دنیوي اړتیاو ته د وخت او حالاتو له غوښتنې سره سم پاملرنه نه ده شوې؛ دیني ضوابطو ته هم پکې لازمه پاملرنه نه ده شوې، نو ځکه یې نه ټولنیزې اړتیاوې پوره کړای شوې، او نه یې د ترلاسه کولو له پاره ژمن هوډ شتون درلود.

ټولنیزې اړتیاوې او دیني ضوابط د یو تحصیلي نصاب دوه وزرونه دي، لکه څنګه چې د دیني نظریاتو په نوم ټولنیزې اړتیاوې له پامه غورځول هم بې له شکه چې زیاتی دی.

دا چې له کړنې څخه یې انګېزه غوره وي، کومه هڅه کې چې انګیزه وي، لړه پایله یې هم ډېره او اغېزمنه ګټه لرلی شي، نو ځکه وایو، چې په تحصیلي نصاب کې باید لومړیتوب دیني ضوابطو ته وشي او په رڼا کې یې ټولنیزو اړتیاو ته د ځواب میندلو هڅه وشي.

د هغو خلکو نیوکې چې د اسلامي ضوابطو او اسلامي فکر زده کړه افراطیت او زاړه معلومات ګڼي، په حقیقت کې تعصب او د امتیازاتو ترلاسه کولو یوه پروژه ده.

د اسلامي زده کړو مثبت اغېز پر ځوانانو کې زیات دی، زیاتره محصلان یې د لا زیاتوالي غوښتنه لري، او دا خبره ښځي ناسمه ده چې ګواکې دیني روزنه په ځوانانو کې تندلاري زېږوي، او ورته یې هڅوي، بلکې ځوانانو کې لا د هېوادنۍ مینې او ټولن پالنې فکر غوړوي.

**پایلې**

د څېړنې پایله دا شوه چې دیني ارزښتونو او د دین روح ته په پام ټولنیزې اړتیاوې او د بشري ژوند غوښتنې ترلاسه کولو له پاره منظمه او اغېزمنه تګلاره جوړول د تحصیلي نصاب په معنا یادېږي، دیني

ارزښتونه او ټولنیزې اړتیاوې په پام کې نیول د ارزښتناکو موخو په ترلاسه کولو کې ډېر اغېزمن دي، دیني ارزښتونو او ټولنیزو اړتیاو ته د پاملرنې مثبتې اغېزې دا دي چې کړنې مو د هویت او فکري ارزښتونو په ګاڼه سمبال، لاسته راوړنې مو بشري ژوند ته سوکالي بخښي، اړتیاوې مو پوره او په غوره توګه د پرمختیا او له نورو سره د سیال کېدلو جوګه ګرځوی او په تحصیلي نصاب کې د دیني ارزښتونو او ټولنیزو اړتیاو له پامه غورځولو ناوړې پایلې دا دي چې بې له انګیزې د یوې نا څرګندې موخې پسې تشې ورځې سبا کول او بالاخره د نورو په خیالاتو کې د هوساینې لټون دی، چې پایله کې نه خپلې اړتیاوې پوره کولی شي، بلکې د ټولنې او د حکومت د غاړې بوج هم شي.

**وړاندیزونه**

د څېړنې په پای کې غواړم ځینې لازمې سپارښتنې او وړاندیزونه ولرم:

۱. د هېواد له سیاسي مشرتابه څخه مې دا هیله ده، چې د لوړو زده کړو تحصیلي نصاب کې د ټولنیزو اړتیاو ترڅنګ دیني ضوابطو ته هم لا ځانګړې پاملرنه وکړي.

۲. د لوړو زده کړو وزارت ته مې دا پیغام دی چې د معاصرې باطل پېژندنې، او فکري ښکېلاک، استشراق، تنصیر، تبشیر او نورو فکري یرغلونو پېژندنې په اړه دې د اسلامي ثقافت په مضامینو کې مفردات ځای کړای شي.

۳. له استاذانو، څېړونکو او لیکوالانو څخه مې دا تمه ده چې په خپلو څېړنو او لیکنو کې د هېواد د ټولنیزو اړتیاو ترڅنګ د دیني ارزښتونو په رڼا کې د تحصیلي بهیر ارزونې ته ځانګړی ځای ورکړي.

۴. محصلانو ته مې دا پیغام دی چې کوښښ وکړي، په خپلو زده کړو کې ټولنیزو اړتیاو ترڅنګ دیني ارزښتونو باندې پوهېدلو ته هم وخت ورکړي.

۵. له عامو مسلمانانو څخه مې دا هیله ده، چې هم خپله او هم راتلونکي نسلونو ته د دیني فکر په رڼا کې د زده کړو لاره غوره کړي.

۶. په دې سره به مو هم ټولنیزې اړتیاوې او هم دیني ارزښتونه پاللي وي، یعنې هم به مو دنیا او هم به مو د اخرت په اړه خپل مسؤلیت ا داء کړی وی.

## سرچينې

قرآن کریم.

صـنور، اسـتاذ فتيحة. (۲۰۱۷م). أثر الضـوابط الدينية على تمثلات الطالبة الجامعية، مجلة الأكادمية للدرسـات الاجتماعية والانسانية، https://www.asjp.cerist.dz/en/article/73759

بخاري، محمد بن إسماعيل.(1422هـ).صحيح البخاري، دار طوق النجاة، لومړی چاپ

سایل، رقيب. (۲۰۱۷م). په پوهنتون کې تحصيلي نصاب، https://rohi.af/news/55600

شهیدزاد، دوکتور عبدالرحمن. (2022م). د واحد مذهبي تعليمي نصاب اړتيا، https://www.nunn.asia/203009/

عزيزي پوهنوال دوکتور شېرزاد. (۱۳۹۸هـ). اسلامي ثقافت ارزښت او د ننګرهار پوهنتون پر ځوانانو يې اغېزې، شريعت وړانګې، د ننګرهار پوهنتون شرعیاتو پوهنځي علمي او څېړنیزه مجله، لومړی ګڼه.

عمر، دكتور أحمد مختار عبد الحميد. (1429 هـ 2008 م). معجم اللغة العربية المعاصرة: عالم الكتب.لومړی چاپ.

فيومي، أحمد بن محمد. (۱۴۱۵). المصباح المنير، دار المعارف، دويم چاپ.

مجاهد، مولوي عبدالهادي. (2017 م). د ولســونو او نظامونو په جوړولو او ورانولو کې د تعليم، فکر او فرهنګ نقش، نن ټکی اسیا. https://www.nunn.asia/97019/

مـدحـت، أبـو الـنصــــــــر. (۲۰۰۹م).الإدارة بـالـحـوافـز أســـالـيـب الـتـحـفـيـز الـوظـيـفـي الـفـعـال، المـكـتـبـة النور، https://maktbah.net/%D9%83%

مســـعـــود، أحـــمـــد طـــاهـــر.(ـــــــ).المـدخـل إلى عـلـم الإجـتـماع الـعـام، دار جـلـيـس الزمان، http://shiabooks.net/library.php?id=11118

وزين، پوهندوی دکتور فضل الهادي. (2020م). د افغانستان تعليمي نصاب کې د ديني تونډلارۍ ريښو پيدا کولو په راپور لنډه کتنه! ژباړه: عابد علمي، https://www.nunn.asia/168652/

يعقوبی، دوکتور محمدحيدر. (1390 هـ ش). نصاب تحصيلي، http://www.curriculum91.blogfa.com/post/198